مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

سلطان جان کلیوال

۲۰۱۹/۰۶/۰۳

# اختـــــــره!!

اختره کلی وران دی، بل توفان ســره رانشــی
درو ته د سرو وینــو، د باران ســره رانشــی

څلوېښت کاله دی راوړله، ویرونه ځان سره
خوښې نه درنه غواړو، خوخپگان سره را نشی

مونږ پرېړده په کرار، چی سره ژاړوخپل غمونه
غرق شوی یو تاوان کی، نورتاوان سره رانشی

چی کاني د غضب، په «فرخندو» او«رخشانو»
ورېږی له اسمان، داسی اســمان سره رانشــی

لوتلــی مونږه ډیر یو، زمانـی په لوټمــارانو
نن بیا د لوټمــارانو، د کاروان ســره را نشــی

نورنشته دی وطن کی، قربانی ته ضرورت
چرود «پاکستان» او د «ایران» سره را نشی

ورکړی دی ولســونو، امتحان په هر میدان
قیامت پوری اختره!، بل میدان سره رانشی

دښمن چی ورته ښکاری، کلیوال د پلارد کلی
توبه له دی جانان، داســی جانان سره رانشی

جون/۲/۲۰۱۹
ایجکس ـ تورنتو ـ کاناډا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولــئ